برشنا

# امارت اسلامی افغانستان

د امارتي شرکتونو لوی ریاست
د افغانستان برشنا شرکت
د برنامو ریاست
د انکشافي پروژو د تطبیق معاونیت
د بهرنیو تمویلونکو د انکشافي پروژو د تطبیق مدیریت

شماره: ۱۸۹۹۸ / ۱۵۹۷

تاریخ: ۳۰ / ۳ / ۴۷

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام اقتصادي محترم معاونیت ته!

اَلسَّلامُ عَلَیکُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکاتُه

**موضوع:** د گرشک اوبو بربښنا فابریکې د بیا رغونې پروژې اړوند قراردادي د مالي ادعاوو (تصفیې حساب) په هکله گزارش؛

ستاسې د ۱۱۵۰ گڼې او ۱۴۴۷/۰۳/۱۱ هـ ق نېټې لیک په اړوند د یادې موضوع په هکله خپل گزارش په لاندې ډول په درنښت سره وړاندې کوو:

د گرشک د اوبو بربښنا فابریکې د بیا رغونې پروژې قرارداد د ۲۰۱۲ زېږدیز کال د فبرورۍ په ٦مه نېټه د AIPL-Hunan Allonward JV (هندي او چینایي مشترک المنافع) کمپنۍ سره لاسلیک شو، چې د بیا رغونې یادې چارې د آسیایي پراختیایي بانک لخوا تمویلېدې. خو وروسته بیا په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې قراردادي شرکت AIPL-Hunan Allonward JV د پروژې د بشپړولو اړوندې ټولې چارې سنټرال الکتریک کمپنۍ ته، چې یو کورنی شرکت دی، وسپارلې او نوموړی شرکت یې د افغانستان بربښنا شرکت ته د 416/AHA-JV/GSK/DABS گڼې او ۲۰۱۸/۰٦/۱٦ نېټې لیک په ذریعه رسماً معرفي کړی دی چې په دې تړاو یې د پروژې د تمویلوونکي (آسیایي پراختیایي بانک) منظوري هم د نوموړي بانک د ۲۰۱۸/۰۷/۳۱ نېټې لیک له لارې تر لاسه کړېده. (اسناد په لومړۍ گڼه مل دي).

دا چې د گرشک اوبو بربښنا د بیا رغونې پروژې د تطبیق چارې د تخنیکي، امنیتي، مالي او حقوقي دلایلو په گډون د گڼ شمېر دلایلو له امله شاوخوا لس کلونه له ځنډ سره مخ شوېدي، د لاسلیک شوي قرارداد د شرایطو له مخې له قراردادي شرکت (AIPL-Hunan Allonward JV) څخه د پروژې د مجموعي قیمت ۱۰ سلنه، چې مجموعاً ۳۸۰۰۴۹۰,۳۳ امریکایي ډالر کېږي، د تأخیر د جریمې په توگه وضع شوي دي.

د دې پروژې، او دې ته ورته پروژو چې د آسیایي پراختیایي بانک (ADB) له خوا تمویلېدې، د اړوند بودجې د استفادې وروستۍ نېټه ۲۸/نومبر/ ۲۰۲۰ ټاکل شوې وه، متأسفانه د دې پروژې او ورته څو نورو پروژو چارې په ټاکلې نېټه بشپړې نه شوې. په دې بنیاد آسیایي پراختیایي بانک (ADB) د خپل ۴/نومبر/۲۰۲۰ لیک له لارې بربښنا شرکت ته خبر ورکړ چې که تر ټاکلې نېټې پورې د دې پروژو اړوند ساختماني چارې بشپړې نکړي او یا که پاتې چارې د ذکر شوې نېټې (۲۰۲۰/۱۱/۲۸ ) وروسته بشپړېږي، ADB به یې د لگښت پیسې ورنکړي. د افغانستان بربښنا شرکت د ADB ستونزې په نظر کې نیولو سره د پروژې قراردادي شرکت ته په (۲۰۲۰/۱۱/۲۲ ) نېټه د بشپړېدو تصدیق (Completion Certificate) او په (۲۰۲۱/۳/۳۱) نېټه د عملیاتي مشروط تصدیق(Operational Acceptance Certificate) صادر کړل. (اړوند اسناد په دوهمه گڼه مل دي).

د دې پروژې په گډون د آسیایي پراختیایي بانک له خوا د ټولو تمویلېدونکو پروژو چارې د فورس مېجور (Force Majeure) یا مجبره حالت له کبله او د دې بانک د مالي ژمنتیا د نه شتون په سبب د ۲۰۲۱ زېږدیز

آدرس: دهمزنگ- کابل- افغانستان
شماره تماس:0202513684
ویب سایت:www.dabs.af

سره د غیر قابل استرداد تضمین(Irrevocable Bank Guarantee) په توګه اېښودل شوی دی نو د نیمګړتیاوو له اصلاح مخکې دې د تضمین غوښتنه نه کېږي. (اسناد په اتمه ګڼه مل دي).

- د محترم ګلاجان حیران او AIPL-Hunan Allonward JV شرکت تر منځ حقوقي دعوی شتون لري چې د کابل ولایت د حقوقو ریاست څخه د افغانستان برېښنا شرکت اوعزیزي بانک ته څو ځله لیکلي سپارښتنې شوېدي تر څو د پروژې له پاتې تضمین څخه هېڅ ډول پرداخت صورت ونه مومي او د پروژې له تضمین څخه د پروژې د بشپړېدو په صورت کې د محترم ګلاجان مقروضیت ادا شي. (اسناد په یوولسمه ګڼه مل دي). دا په داسې حال کې ده چې، باید روښانه کړو، چې له عزیزي بانک سره د قراردادي (هندي او چینایي مشترک المنافع) کمپنۍ موجود تضمین، چې د پروژې د سل سلنه بشپړېدو او د ټولو ممکنو نواقصو د اصلاح لپاره اېښودل شوی دی، تر هغې چې نیمګړتیاوې ټولې اصلاح نکړای شي نوموړی تضمین د افغانستان برېښنا شرکت مسلم حق ګڼل کېږي. البته که چېرې قراردادي شرکت وتوانېږي ټولې پاتې نیمګړتیاوې اصلاح کړي بیا نوموړی تضمین قراردادي شرکت ته د آزادېدو وړ ګرځي. زموږ سره د موجوده اسنادو مطابق، د حسن اجراء کار تضمین، یوازې د مدعی علیه (AIPL) نه، بلکې د چینایي شرکت (Hunan Allonward) او سنترال شرکت ورسره شریک دی او مدعي(ګلاجان حیران) ته یې ورکړه له منعقده قرارداد څخه انحراف ګڼل کېږي. په دې تړاو د محکمې پریکړې هم د پاملرنې وړ دي چې باید وضاحت او قناعت ورکړل شي. له دې سره سره، د یادونې وړ ده چې د محترم ګلاجان او نوموړي شرکت، د هر غړي، هر ډول شراکت د نیوکې وړ دی ځکه نوموړی د دې پروژې د تدارکاتو د پروسې په وخت کې د برېښنا شرکت عملیاتي مرستیال وو، روښانه ده چې د پروژې په تړاو د نوموړي هر ډول شراکت "تضاد منافع" ګڼل کیږي.
- د منعقده قرارداد د شرایطو او بیا په ځانګړې توګه د اصلي قراردادي ( AIPL-Hunan Allonward JV) او سنترال الکتریک شرکت تر منځ د ځانګړې مکمله مشترک المنافع تړون د شرایطو (اسناد په لسمه ګڼه مل دي) پر بناء د تضمینونو او تأميناتو په ګډون هر ډول پرداخت باید د قراردادي شرکت له اړخه د پروژې د ورپېژندل شوي بانکي حساب له لارې پرداخت شي، چې نوموړی تضمین هم په یو ډول د پرداختونو په کټګوری کې راځي او یواځې د ټولو نیمګړتیاوو له اصلاح وروسته د پروژې لپاره ورپېژندل شوي بانکي حساب ته د پرداخت وړ ګرځي. هیله ده په دې تړاو سنترال الکتریک په خپلو غوښتنو غور وکړي.
- د AIPL شرکت د تیرو څو کلونو راپدې خوا د برېښنا شرکت سره هیڅ ډول اړیکې (برېښنا لیک یا تیلفوني) نلري. د برېښنا شرکت د برنامو ریاست هڅه کړیده چې دوي سره اړیکه ټینګه کړي او د پروژې اړوند موضوعاتو او حسابي تصفیې لپاره یې د میز څنګ ته یا تیلفوني غونډې ته را وغواړي خو متاسفانه چې د دوي آدرس ته په برېښنا لیکونو لیږلو سره نه یو بریالي شوي چې ځواب ترلاسه کړو. څه موده وړاندې مو د بهرنیو چارو محترم وزارت ته لیکونه واستول ترڅو که د دیپلوماتیک آدرس له لارې وکولای شي له AIPL سره تماس تر لاسه کړي او د حسابونو د تصفیې لپاره حاضر شي، خو د بهرنیو چارو محترم وزارت څخه تر اوسه په دې هکله څه معلومات نه دي ترلاسه شوي (اسناد په دولسمه ګڼه مل دي). دا چې د AIPL څخه تر اوسه ځواب نه دی تر لاسه شوی او اړیکې نه لري، په دې بنیاد، د سنترل الکتریک شرکت لیکلی (اسناد په دیارلسمه ګڼه مل دي) ژمنه کړیده چې د JV AIPL - Hunan Allonward په عدم موجودیت کې د حساب د تصفیې لپاره چمتو دی او ژمنه کوي چې که AIPL - Hunan Allonward JV په راتلونکي کې هر ډول ادعا ولري ټول مسئولیت به ئې د سنترال الکتریک په غاړه وي او برېښنا شرکت ته به هیڅ ډول حقوقي ستونزه نه جوړیږي، د دې ترڅنګ سنترال الکتریک شرکت وړاندیز کوي چې د حسن اجراءِ کار تضمین دې د پروژې بانکي حساب په ځای د دوي خپل بانکي حساب ته له تصفیې وروسته آزاد او انتقال شي.

کال د اگست له ۱۵مې نېټې راپدې خوا په ټپه ودرېدلي (اسناد په دریمه گڼه مل دي). د ( Force Majeure) یا مجبره حالت د وضع کېدو یا را منځ کېدو سره سره برېښنا شرکت د دې پروژې د تست او کمېشنینگ د بشپړېدو په موخه د سنترال الکتریک شرکت سره گڼ شمیر غونډې دایرې کړې، لیکونه او برېښنا لیکونه یې ورواستول، او نوموړی شرکت یې د پروژې بشپړولو ته وهڅاوه تر څو پاتې چارې بشپړې او پروژه گټې اخیستنې ته وسپاري (اسناد په څلورمه گڼه مل دي). سنترال الکتریک شرکت د مالي ستونزو په وجه د پاتې چارو د بشپړېدو په هکله د برېښنا شرکت څخه د پروژې د حسن اجراء کار د تضمین د ۴۰ سلنه برخې د آزادولو وړاندیز وکړ (اسناد په پنځمه گڼه مل دي) خو د برېښنا شرکت رهبری ورسره یوازې د ۲۵ سلنه، د ریاست الوزراء د عالي مقام د اقتصادي محترم معاونیت د حکم د تر لاسه کولو په شرط، موافقه وکړه.

د پاتې کارونو بشپړولو لپاره د برېښنا شرکت په وړاندیز او ریاست الوزراء عالي مقام د اقتصادي محترم معاونیت په حکم د قراردادي د حُسن اجراء له تضمین څخه ۲۵٪ پیسې ځانگړې، منظور او قراردادي ته ورکړل شوېدي تر څو له دې رقم څخه په استفادې د یادې پروژې پاتې چارې (کمېشنېگ او عملیاتي کول) ژر تر ژره بشپړې او پروژه گټې اخیستنې ته چمتو او وسپارل شي. د افغانستان برېښنا شرکت د پروژې د ژر تر ژره بشپړېدو په موخه د تضمین پورتنی ٪۲۵ مبلغ د ریاست الوزراء عالي مقام د اقتصادي محترم معاونیت له منظوری وروسته د سنترال الکتریک شرکت بانکي حساب ته د افغانستان برېښنا شرکت د ۱۰۱۴۹/۳۳ گڼې او ۱۴۴۵/۰۳/۲۵ نېټې لیک په بنیاد انتقال کړ (اسناد په شپږمه گڼه مل دي). د پورتني مبلغ له انتقال وروسته د پروژې د ژر تر ژره بشپړولو لپاره د برېښنا شرکت له خوا قراردادي (سنترال الکتریک کمپنی) ته د بېلابېلو مجلسونو، برېښنالیکونو، مکتوبونو له لارې سپارښتنې شوېدي (اسناد په اوومه گڼه مل دي)، چې په پایله کې سنترال الکتریک شرکت د پروژې د ټست او کمېشنینگ پروسه په بریالیتوب سره بشپړه او پروژه یې گټې اخیستنې ته چمتو کړه.

اوسمهال د فابریکې ساختماني ټولې چارې بشپړې شوې دي او د پروژې د ټست او کمیشننگ پروسه هم د روان کال د صفر المظفر میاشتې په ۲۳مه نېټه بشپړه شوه او په پایله کې یې درې واړه توربینونه په خپل بشپړ ظرفیت فعال شول ،د هیئت گزارش مل دی (اسناد په اتمه گڼه مل دي).

د روان کال د ربیع الاول میاشتې په شپږمه نېټه د ریاست الوزراء عالي مقام د اقتصادي محترم معاونیت په مشرۍ د افغانستان برېښنا شرکت او قراردادي تر منځ غونډه (اسناد په نهمه گڼه مل دي) دایره شوه چې موضوع یې مالي تصفیې او د پاتې تضمین آزادېدو ته د معقولې او مسئولانه کړنلارې ترتیبول او پرانستل وو - په نوموړې غونډه کې د افغانستان برېښنا شرکت ته دنده وسپارل شوه چې د پروژې د پس منظر په نظر کې نیولو سره او د اوسني حالت په تړاو خپل مفصل گزارش وړاندې کړي تر څو یې په هکله د هغه محترم معاونیت له اړخه اړین اجراءات تر سره شي.

د افغانستان برېښنا شرکت د قراردادي شرکت د تضمین آزادېدو او مالي تصفیې په تړاو لاندیني موارد د معلوماتو، وروستیو اجراءاتو او د افغانستان برېښنا شرکت یا اړوندې ادارې ته د لاربښوونې لپاره ستاسې حضور ته وړاندې کوي:

- پروژه د ریاست الوزراء عالي مقام د ۵۰۸۵ گڼې او ۱۴۴۶/۰۹/۰۶ نېټې حکم پر بنسټ تر اوسه د فرامینو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست تر خاص تفتیش لاندې ده او د تفتیش له نهایي کېدو مخکې به شاید د مالي اړوندو اجراءاتو کړنې ممکنې نه وي. (اسناد په لسمه گڼه مل دي)
- په پروژه کې تر اوسه هم یو شمېر د پام وړ نیمگړتیاوې شتون لري چې باید له تضمین آزادیدو او مالي تصفیې وړاندې نوموړې نیمگړتیاوې اصلاح شي. څرنگه چې،د قرارداد له مخې، نوموړی تضمین د پروژې د نیمگړتیاوو د اصلاح دورې (Defect Liability Period) لپاره له برېښنا شرکت

- د Hunan Allonward شرکت او د AIPL ترمنځ هم د شاوخوا ۲۷۱،۷۷۲ امریکائي ډالرو د تصفیه حساب (اسناد په ځوارلسمه ګڼه مل دي) موضوع په ځای پرته ده، هغه دا چې Hunan Allonward شرکت ته ذکر شوی رقم د AIPL له خوا نه دی مجراء شوی. د سنټرال الکتریک شرکت شفاهي ادعا لري چې له نوموړي رقم څخه زیات مبلغ د دوی له خوا د Hunan Allonward شرکت ځای په بل چینایي شرکت ته د ګرشک د اوبو بریښنا فابریکې د بیارغونې پروژې د تجهیزاتو (توربین، جنراتور او سویچ ګیر) د فعالولو اړوند کودونو د ترلاسه کولو په موخه تادیه شویدي. د AIPL او Hunan Allonward ترمنځ د تصفیې حساب موضوع په برېښنا شرکت پورې تړاو نه لري، د دوی خپل منځي موضوع ده، دلته یې یوازې یادونه وشوه.

د څرګندونې وړ ده چې د افغانستان برېښنا شرکت او قراردادي (AIPL-Hunan Allonward JV) ترمنځ د لاسلیک شوي قرارداد له مخې د طرفینو ترمنځ د هر ډول حقوقي او مالي قضیو د رامنځته کېدو په صورت کې باید قضیې د نړیوالې سوداګرۍ د داورۍ په موخه د ملګرو ملتونو د کمیسیون (UNICTRAL) د ۱۹۶۶ زېږدیز کال د تألیف شوو کړنلارو سره سم حل او فصل شي، چې پورته ذکر شویو مدعیانو (محترم ګلاجان حیران) او سنټرال الکتریک شرکت ته د دې پروژې د بانکي تضمین د ورکړې په صورت کې دا احتمال شونی دی چې اصلي قراردادي شرکت د قرارداد د شرایطو سره سم په برېښنا شرکت باندې دعوی وکړي، د دې احتمالي دعوی په صورت کې به د افغانستان برېښنا شرکت د نوموړې دعوی پر وړاندې د قرارداد په رڼا کې ممکن هېڅ موجه دلایل ونه لري. (اسناد په پنځه لسمه ګڼه مل دي).

پورتنیو وضاحتونو ته په کتو سره، کله چې قراردادي شرکت ونتوانېږي چې په پروژه کې موجودې نیمګړتیاوې د قرارداد د شرایطو په رڼا کې ورغوي نو د قراردادي شرکت بانکي تضمین به د پروژې د بشپړولو په موخه د افغانستان برېښنا شرکت بانکي حساب ته انتقالېږي او د پروژې د بشپړولو لپاره به ورڅخه ګټه اخیستل کېږي او که چېرې قراردادي شرکت په پروژه کې شته نیمګړتیاوې ټولې ورغوي، بیا د منعقده قرارداد د شرایطو او مادو په رڼا کې بانکي تضمین پورته ذکر شوي مشترک المنافع شرکت AIPL-Hunan Allonward JV (د پروژې پیژندل شوی بانکي حساب) ته د آزادېدو وړ ګرځي (اسناد په لومړۍ ګڼه مل دي). د یادونې وړ ده او وړاندیز کېږي چې د محکمې حکم د محترم ګلا جان حیران په برخه کې هم په نظر کې ونیول شي او یا دا چې محکمې ته قناعت ورکړل شي تر څو خپل حکم تجدید نظر کړي.

موضوع په پورته ډول ستاسې درانه مقام ته وړاندې کېږي، د افغانستان برېښنا شرکت به ستاسې د لارښوونو په رڼا کې په دې تړاو اړینې کړنې تر سره کړي.

والسلام

مولوي احمدجان بلال

د امارتي شرکتونو عمومي رئیس

کاپي:

د افغانستان برېښنا شرکت د دفتر محترم ریاست

دهمزنگ – کابل - افغانستان amin.n@dabf.af 0202513684 www.dabs.af